# دافغانستان اسلامي جمهوريت

## د عدليې وزارت

# رسمي جريده

فوق العاده ګڼه

## د ولايتي شوري ګانو قانون

## قانون شورا های ولایتی

---

د خپريدو نېټه:د ۱۳۸٦ هـ .ش کال د وري د مياشتې (۳۰)
پرله پسې نمبر (۹۲۰)

تاریخ نشر : (۳۰) حمل سال ۱۳۸٦ هـ . ش
نمبر مسسلسل (۹۲۰)

**در این شماره:**

**۱- فرمان شماره (۱) مورخ ۱۳۸۶/۱/۵ رئیس ج.ا.ا در مورد توشیح قانون شوراهای ولایتی.**

**قانون شوراهای ولایتی از صفحه (۱-۱۷)**

**د امتیاز خاوند : دعدلیې وزارت**

**مسؤول چلوونکی : عبدالرشید "قیومي"**

**مرستیال : نورعلم**

**مهتمم : محمد جان**

**د افغانستان اسلامي جمهوريت**

**ګڼه : (۱۷۲)**

**نېټه : ۱۳۸٦/۱/۸**

**دعدليې وزيرمحترم سروردانش!**

**د ولايتي شوري ګانو قانون چې د ملي شوري د مجلسونو لخوا په(۵) فصلونو او(۲۴)مادو کې تصـــويب او زمونږ لخوا د ۱۳۸٦/۱/۵ نېټې (۱) ګڼې فرمان پر بنسټ توشـــيح شوی دی تاسو ته درواستول شـــو څو يې په ټوليزو رسنيو او رســـمي جريده کې په خپرولو اقدام وکړئ .**

**حامد کرزی**

**د افغانستان د اسلامي جمهوريت رئيس**

**جمهوری اسلامی افغانستان**

**نمبر : (۱۷۲)**

**تاريخ : ۱۳۸٦/۱/۸**

**محترم سرور دانش وزير عدليه!**

**قانون شورا های ولايتی که از طرف مجلسين شورای ملی در (۵) فصل و (۲۴) ماده تصويب و از جانب ما به اساس فرمان شماره (۱) مـــؤرخ ۱۳۸٦/۱/۵ توشيح گرديده است بهٔ شما ارسال شد تا به نشر آن در رسانه های همگانی و جريدهٔ رسمی اقدام نمايند .**

**حامد کرزی**

**رئيس جمهوری اسلامی افغانستان**

## د ولايتي شوري ګانو د قانون د توشېح په هکله د افغانستان د اسلامي جمهوريت د رئيس فرمان

ګڼه : (۱)

نېټه :۱۳۸٦/۱/۵

د ولايتي شوري ګانو قانون چې د افغانستان د اسلامي جمهوريت د ملي شوري د ۱۳۸۵/۱۲/۲۸ نېټې د (۴۱) ګڼې مصوبې پربنسټ په پنځو فصلونو او څلېريشتو مادو کې تصويب شوی دی ، توشېح کوم .

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذاو له قانون سره يوځای دې په رسمي جريده کې خپور شي .

**حامد کرزی**

**د افغانستان د اسلامي جمهوريت رئيس**

## فرمان رئيس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشيح قانون شورا های ولايتی

شماره : (۱)

تاريخ : ۱۳۸٦/۱/۵

قانون شورا های ولايتی را که به اساس مصوبهٔ شماره (۴۱) مؤرخ ۱۳۸۵/۱۲/۲۸ شورای ملی جمهوری اسلامی افغانستان در پنج فصل و بيست و چهار ماده تصويب گرديده است، توشيح ميدارم .

اين فرمان از تاريخ توشيح نافذ و همراه با قانون در جريدهٔ رسمی نشر گردد .

**حامد کرزی**

**رئيس جمهوری اسلامی افغانستان**

## ملی شوري

## ولسي جرګه

**د ولايتي شوري ګانو د قانون په هکله د افغانستان د اسلامي جمهوريت دملي شوري مصوبه**

ګڼه : (۴۱)

نېټه :۱۳۸۵/۱۲/۲۸

د افغانستان اسلامي جمهوريت ملي شوري د ولايتي شوري ګانو د قانون طرحه د ۱۳۸۵ هجري لمريز کال د کب مياشتې په (۲۱) نېټه د جلالتمآب جمهور رئيس د دوو موردو تعديلاتو له په پام کې نيولو سره تصويب کړ .

په درنښت

محمد يونس قانونی

د ولسي جرګې رئيس

## شورای ملی

## ولسی جرگه

**مصوبهٔ شورای ملی جمهوری اسلامی افغانستان در مورد قانون شورا های ولایتی**

شماره : (۴۱)

تاریخ : ۱۳۸۵/۱۲/۲۸

شورای ملی جمهوری اسلامی افغانستان طرح قانون شورا های ولایتی را با نظرداشت دو مورد تعدیل جلالتمآب رئیس جمهور بتاریخ (۲۱) حوت ۱۳۸۵ هجری شمسی تصویب نمود .

با احترام

محمد یونس قانونی

رئیس ولسی جرگه

# فهرست مندرجات

## قانون شورا های ولایتی

### فصل اول

### احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ اول : | مبنی | ۱ |
| مادۀ دوم : | هدف | ۱ |
| مادۀ سوم : | سلوک عضو شورای ولایتی | ۲ |


### فصل دوم

### وظایف و صلاحیت های شورای ولایتی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ چهارم : | وظایف و صلاحیت ها | ۳ |
| مادۀ پنجم : | وظایف رؤسا و اعضای شورا | ۶ |


### فصل سوم

### اجلاس شورا های ولایتی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ ششم : | انتخاب رئیس ، معاون و منشی | ۸ |
| مادۀ هفتم : | نصاب جلسات | ۹ |
| مادۀ هشتم : | علنیت و سری بودن جلسات | ۹ |
| مادۀ نهم : | جلسات | ۹ |

## فصل چهارم

## تعلیق و انحلال شورای ولایتی


مادهٔ دهم : حالت تعطیل ........................................ ۱۰

مادهٔ یازدهم : حالت انحلال ........................................ ۱۱

مادهٔ دوازدهم : شکایت علیه عضو شورا ........................ ۱۲

مادهٔ سیزدهم : ارتکاب جرم ........................................ ۱۳

مادهٔ چهاردهم : کمیته ها........................................ ۱۳

مادهٔ پانزدهم : تعلق کرسی ........................................ ۱۴

مادهٔ شانزدهم : امتیازات ........................................ ۱۴

مادهٔ هفدهم : نیازمندی شورا ........................................ ۱۵


## فصل پنجم

## احکام متفرقه


مادهٔ هجدهم : ارائهٔ معلومات ........................................ ۱۵

مادهٔ نزدهم : همکاری شورا ها ........................................ ۱۵

مادهٔ بیستم : عدم اشتغال ........................................ ۱٦

مادهٔ بیست ویکم : مصؤنیت و امنیت ........................ ۱٦

مادهٔ بیست ودوم : حضور و غیاب........................................ ۱٦

مادهٔ بیست و سوم: مهر و نشریه ........................................ ۱۷

مادهٔ بیست و چهارم: تاریخ انفاذ ........................................ ۱۷

بسم الله الرحمن الرحيم

# د ولايتي شوري ګانو قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

مبني

**لومړۍ ماده :**

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون په يو سلو اته دېرشمه او يو سلو نهه دېرشمه ماده کې د درج شوو حکمونو پر بنسټ د ولايتي شوري ګانو د فعاليتونو او په هغو پورې د نورو اړوندو چارو د تنظيم په منظور ، وضع شوی دی .

موخه

**دوه يمه ماده :**

ولايتي شوري د يوې انتخابي مجمع په توګه د داسې جوړښت د رامنځته کېدو په موخه چې د ولايت په سطح له دولتي ادارو سره د خلکو او مدني ټولنې د بنسټونو ګډون او ونډه اخستنه تأمين او

# قانون شورا های ولایتی

## فصل اول

## احکام عمومی

مبنی

**مادۀ اول :**

این قانون به تأسی از احکام مندرج مواد یکصد و سی و هشتم و یکصد و سی و نهم قانون اساسی افغانستان به منظور تنظیم فعالیت های شوراهای ولایتی و سایر امور مربوط به آن ، وضع گردیده است .

هدف

**مادۀ دوم :**

شورای ولایتی به حیث یک مجمع انتخابی به هدف ایجاد ساختاری که مشارکت و سهم گیری مردم و نهاد های جامعۀ مدنی را با ادارات دولتی در سطح ولایت تأمین و ادارات

ولايتي ادارو ته په اړوندو چارو کې سلا ورکړي او نظارت ئې وکـــړي، فعاليت کوي.

## د ولايتي شوري د غړي سلوک

**درېيمه ماده :**

د ولايتي شـــوري غـــړی د خپلـــو دندو په اجراء کـــې د ســـيمې لـــه اوسېدونکو څخه استازيتوب کوي ، د افغانستان لوړې ګټې په پام کـــې نيسي، رېښتينولي ، امانـــت داري او ناپلوي د عمل معيار ګرځـــوي ، د خلکو په وړاندې ځان مسؤول ګڼي او د شوري د نورو غـــړو د نظـــر درنۀ ناوی کوي .

د ولايتي شوري غـــړی لـــه تـــوپير (تبعيض) او د قومي ، ديني ، مذهبي، ژبني ،جنس او معلوليت له ملحوظاتو پر ته خپل سلوک عياروي ، له قانون څخه ملاتړ کوي او دهغۀ باور له په پام کې نيولوسره چې دخلکو لخـــوا پر هغۀ باندې شوی دی، عمل کوي .

ولايتی را در امور مربوط مشـــوره دهد و نظـــارت کنـــد، فعاليـــت مينمايد.

## سلوک عضو شورای ولايتی

**مادۀ سوم :**

عضو شورای ولايتـــی در اجـــرای وظايف خويش از ســـاکنين محـــل نماينـــــدگی نمـــوده ، منـــــافع علیای افغانستان را در نظر گرفته ، صداقت ، امانت داری و بيطرفی را معيار عمل قرار داده ، نزد مـــردم خود رامسؤول پنداشته و نظر ساير اعضـــــای شـــــورا را احتـــــرام می نمايد.

عضـــو شـــورای ولايتـــی بـــدون تبعيض و ملحوظات قـــومی،دينی ، مذهبی ، لسانی ، جنس و معلوليت ، سلوک خويش را عيار نمـــوده ، از قانون حمايـــت و بـــا نظرداشـــت اعتمادی که از طرف مردم بـــر وی شده است ، عمل مينمايد .

## دوه يم فصل

## د ولايتي شوري دندې او واکونه

دندې او واکونه

**څلورمه ماده :**

ولايتي شوري د لاندې دندو او واکونو لرونکې ده :

۱- د اقتصادي ، ټولنيزو ، روغتيا، پوهنې ، د ژوند د چاپېريال ساتنې د ښه کېدو او بيا جوړونې په ساحو او په ولايت پورې په نورو اړوندو چارو کې د حکومت د پرمختيايي موخــو په ټاکلو کې، ګډون کول .

۲- د ولايت له مالي سرچينو څخه د اغېزمنې ګټې اخستنې په هکله د سلا ورکول او څارنه .

۳- د اصلاحي جرګو لــه لارې د قومي او سيمه ييــزو اختلافونــو او شخړو په حل کې ګډون کول .

۴- حکومت ته له وړانديز د مخه د ولايت د پرمختيايي پلان او اټکــل

## فصل دوم

## وظايف و صلاحيت های شورای ولايتی

وظايف و صلاحيت ها

**مادۀ چهارم :**

شورای ولايتــی دارای وظــايف و صلاحيت های ذيل ميباشد :

۱- مشارکت در تعيــين اهــداف انکشافی حکومــت در ســاحات اقتصادی ، اجتمــاعی ، صــحت ، معارف ، بهبود محــيط زيســت ، بازسازی و ساير امور مربــوط بــه ولايت .

۲- ارايۀ مشوره و نظارت در مورد اســتفادۀ مــؤثر از منــابع مــالی ولايت.

۳- مشارکت در حل اختلافات و منازعات قومی و محلی از طريــق جرگه های اصلاحی .

۴- ارائۀ مشوره و تأييد در مــورد طرح پلان انکشافی ولايت و پــلان

شوي پلان د طرحې په هکله سلا ورکول او تأیید.

۵- د اسلامي شریعت او قانون خلاف رواجونو او (د اجباري ودونو ، په بدو کې د ښځو د ورکولو او هغو ته د ورته ) عنعنو په ممکنو لارو دله منځه وړلو لپاره کارنده ونډه اخستنه او د بشر د حقوقو په تأمینولو کې هڅه .

٦- د اړوندو مقاماتو له خبرتیا وروسته د آزادۍ د سلبولو له ځایونو څخه لیدنه، د قانون او حقوقو د ساتنې د مراجعو د کړنو تحلیلول او ارزول او په هکله ئې د ولایت ادارې ته د رپوټ وړاندې کول .

۷- د کوکنارو د کرکېلې ، تولید ، ساتنې او د مخدرو موادو ، مسکراتو د قاچاق او په هغو باندې د روږدې کېدو ، د مسکراتو د استعمال او د نوموړو موادو د استعمال له خطرونو څخه د پوهاوي ورکولو له لارې د هغو په مخنیوي کې اغېزمنه او

پیش بینی شده قبل از پیشنهاد به حکومت .

۵- سهمگیری فعال به طرق ممکنه برای از بین بردن رسوم و عنعنات مغایر شریعت اسلامی و قانون (ازدواج های اجباری ، بد دادن زن ها و امثال آن ) و مساعی در تأمین حقوق بشر .

٦- بازدید از محلات سلب آزادی بعد از اطلاع به مقامات مربوط ، تحلیل و ارزیابی عمل کرد های مراجع حراست قانون و حقوق و ارائهٔ گزارش در مورد به ادارهٔ ولایت .

۷- سهمگیری مؤثر و فعال در جلوگیری از زرع کوکنار ، تولید ، نگهداری و قاچاق مواد مخدر ، مسکرات و اعتیاد به آن و استعمال مسکرات ، از طریق آگاهی دادن از خطرات استعمال مواد

کارنده برخه اخستنه او لــه هغــو مؤسسو سره چې د مخدرو موادو او مسکراتو پر خلاف د مبارزې په کار کې فعاليت کوي، مرسته کول او د خلکو د همکارۍ جلبول .

۸- د ولايتـــي اداري او اړونـــدو څـــانگو د اجراآتـــو او د کـــار د پلان په اړه د معلوماتو غوښتنه او جمهور رئيس او ملي شوري تــه د ليکلی رپوټ وړاندې کول .

۹- د ولايتي اداري د پرمختيـــايي پلان او کلنيو لگښتونو د ډول څېړل او د ټوليزو رسنيو له لارې د اړوند ولايت اوســېدونکو تــه د هغــو د معلوماتو وړاندې کول .

۱۰- دتاريخي آثارو په ساتنه کـــې برخه اخستنه او د هغو له ويجاړېدو ، غلا او قاچاق څخه مخنيوی .

۱۱- د ولايت له اوسېدونکو سره د عمومي مشورتي غونډو لـــه لارې لږ تر لږه هرې درې مياشتې يو ځـــل او له والي او د اړونـــدو ادارو لـــه

مـــــذکور و جلـــب همکـــاری مردم و مساعدت با مؤسســاتيکه در امـــــر مبــــارزه عليــــه مواد مخدر و مســـکرات فعاليـــت مينمايند.

۸- مطالبهٔ معلومات در رابطه بـــه اجراآت و پلان کار ادارهٔ ولايتی و شعبات مربوط و تقـــديم گـــزارش تحريری به رئيس جمهور و شورای ملی .

۹- بررسی پلان انکشافی و نحـــوهٔ مخارج سالانه ادارهٔ ولايتی و ارايهٔ معلومات آن به ســـاکنين ولايـــت مربوطه از طريـــق رســـانه هـــای همگانی .

۱۰- سهمگيری در حفـــظ آثـــار تاريخی و جلوگيری از تخريـــب ، سرقت و قاچاق آنها .

۱۱- مشوره با ساکنين ولايـــت از طريـــــق جلســــــات مشـــــورتی عمومی حد اقـــل هـــر ســـه مـــاه يک بار و با والـــی و مســـؤولين

مسؤولينو سره لږ تر لږه هره مياشت يو ځل سلا کول .

۱۲- د ژوند چاپېريال د ساتنې او د ونو او ځنگلونو لــه غوځولــو او د وحش او الوتونکو له ښکار څخه د مخنيوي پــه منظــور ، کارنــده او اغېزمنه برخه اخستنه .

۱۳- د ولسواليو او کليو له شوري گانو سره د ولايتي شوري گانو د هم غږو اړيکيو پر تأمينولو کــې برخــه اخستنه .

۱۴- د افرادو او اشخاصو لخوا د عامه املاکو لــه غصــب څخــه د مخنيوي په منظور، کارنــده برخــه اخستنه .

د شوري د رئيسانو او غړود ندې

پنځمه ماده :

(۱) د ولايتي شوري گانو رئيسان د لاندې دندو لرونکي دي :

۱- د ولايت په سطح او له هغهٔ بهر له شوري څخه استازيتوب.

۲- د شوري د غونډو لارښــوونه

ادارات مربــوط حــد اقــل مــاه يک بار .

۱۲- سهمگيری فعال و مؤثر بــه منظور حفــظ محــيط زيســت و ممانعــــت از قطـــع اشـــجار و جـــنگلات و شـــکار وحـــوش و طيور.

۱۳- سهمگيری شورا های ولايتی در تـــأمين روابـــط هماهنـــگ بــا شــوری هــای ولســواليها و قريه ها .

۱۴- سهمگيری فعال به منظــور جلوگيری از غصب املاک عامــه توسط افراد و اشخاص به همکاری مسؤولين ذيربط .

وظايف رؤسا و اعضای شورا

مادهٔ پنجم :

(۱) رؤسای شوراهای ولايتی دارای وظايف ذيل ميباشند :

۱- نمايندگی از شورا در ســـطح ولايت و خارج از آن.

۲- رهبـــری جلســـات شـــورا

او هغو تــه د څېړنــې وړ مســئلو ابلاغول.

۳- اړوندو ځانګو ته د شــوري د مشورو ، تصــميمونو او مصــوبو وړاندې کول او دهغو له اجراء څخه ډاډ ترلاسه کول .

(۲) د شوري غړي د لاندې دنــدو لرونکي دي :

۱- له ستونزو څخه د خبرېدو پــه منظور له خلکو سره مفاهمه ، د نظر تبادله او د افکارو راکړه ورکړه .

۲- په غونډو کې ګډون او د هغــو مسئلو په حل کې برخه اخستنه چې د اړوندې شوري په غونډه کــې تــر څېړنې لاندې نيول کېږي .

۳- د سالمې ادارې د جوړېدو لپاره دوامداره هڅه او دبا کيفيته او چټکو خدمتونو د وړاندې کولو د ظرفيتونو دلوړولو په غرض هاند او په اړوندو ادارو کې د ارتشاء، اداري فساد او نــورو نيمګړتيــاوو پــر خــلاف مبارزه .

و ابلاغ مسايل مورد بررســی بــه اعضاء .

۳- ارائهٔ مشوره هــا ، تصــاميم و مصـــوبات شـــورا بـــه ادارات مربـــوط و حصـــول اطمينـــان از اجرای آن .

(۲) اعضای شورا دارای وظــايف ذيل ميباشند :

۱- مفاهمه ، تبادل نظر و تعــاطی افکار با مردم به منظور آگــاهی از مشکلات آنها .

۲- اشتراک در جلسات و ســهم گيری در حل مسائلی که در اجلاس شورای مربوط مورد بررسی قــرار ميگيرد .

۳- سعی مســتمر بــرای ايجــاد ادارهٔ سالم و سعی غرض ارتقــای ظرفيت های عرضهٔ خــدمات بــا کيفيـــت و ســـريع و مبـــارزه عليـــه ارتشـــاء ، فســـاد اداری و ساير نارســائی هــا در ادارات مربوط .

## درېيم فصل

## د ولايتي شوري ګانو غونډه

**د رئيس ،مرستيال او منشي ټاکنه**

**شپږمه ماده :**

ولايتي شوري په خپله لومړنۍ غونډه کې چې د شوري د تر ټولو زيات عمر لرونکي غړي تر رياست لاندې جوړېږي ، د خپلو غړو له منځ څخه ديوهٔ کال مودې لپاره رئيس،مرستيال او د شوري منشي غوره کوي .

که چېرې له کانديدانو څخه يو په لومړي پړاو کې د ټولو رأيو د اکثريت په ترلاسه کولو بريالی نشي ، رأيه اخستنه د دوه يم دور لپاره د هغو دوو کانديدانو ترمنځ چې زياتې رأيې يې ترلاسه کړې دي، صورت مومي. پدې پړاو کې هغه کانديد چې زياتې رأيې لاس ته راوړي ، د شوري د رئيس په توګه ټاکل کېږي .

پدغه پړاو کې د رأيو د تساوۍ په صورت کې ، هغه کانديد چې د

## فصل سوم

## اجلاس شورا های ولایتی

**انتخاب رئیس ، معاون و منشی**

**مادهٔ ششم :**

شوراي ولايتی در اولين اجلاس خود که تحت رياست مسن ترين عضو شورا دائر ميگردد ، از بين اعضای خويش رئيس ، معاون و منشی شورا را برای مدت يکسال انتخاب می نمايد .

هرگاه يکی از کانديدان در مرحلهٔ اول به کسب اکثريت کل آرا نايل نگردد ، رأی گيری برای دور دوم بين دو کانديدیکه بيشترين آرا را بدست آورده اند ،صورت ميگيرد . در اين مرحله کانديدی که بيشترين آرا را بدست آورد ، به حيث رئيس شورا انتخاب ميگردد .

در صورت تساوی آراء در اين مرحله ، کانديديکه بيشترين تحصيل

زياتې زدکړې لرونکی وي، د شوري د رئيس په توګه غوره کېږي .

**د غونډو نصاب**

**اوومه ماده :**

(۱) د ولايتي شوري د غونډو د جوړېدو نصاب د هغې د ټولو غړو د اکثريت حضور دی .

(۲) د شوري تصميمونه او مصوبې په غونډه کې د حاضرو غړو د دوو ثلثو په رأيې سره نيول کېږي .

**د غونډو علنيت او پټوالی**

**اتمه ماده :**

د ولايتي شوري غونډې په علني توګه جوړېږي ، خو دا چې د شوري د غړو ثلث د هغو پټوالی وغواړي.

**غونډې**

**نهمه ماده :**

(۱) د ولايتي شوري عمومی غونډه په هرو پنځلسو ورځو کې يو ځل جوړېږي . د شوري فوق العاده

را دارا باشد ، بحيث رئيس شورا انتخاب ميگردد .

**نصاب جلسات**

**مادۀ هفتم :**

(۱) نصاب تدوير جلسات شورای ولايتی حضور اکثريت تمام اعضای آن ميباشد.

(۲) تصاميم و مصوبات شورا به رأی دو ثلث اعضای حاضر در جلسه اتخاذ ميگردد .

**علنيت و سری بودن جلسات**

**مادۀ هشتم :**

مجالس شورای ولايتی طور علنی داير ميگردد ، مگر اينکه ثلث اعضای شورا ، سری بودن آن را تقاضا نمايند .

**جلسات**

**مادۀ نهم :**

(۱)جلسۀ عمومی شورای ولايتی در هر پانزده روز يک بار داير ميگردد.جلسات فوق العادۀ شورا به

غونډې د غړو د یوهٔ ثلث یا د هغې د رئیس په وړاندیز او یا د شوري رئیس ته د والي د وړاندیز او د هغهٔ د موافقې په صورت کې،جوړېدی شي.

(۲) د ولایتي شوري غونډه د ولایت په مرکز کې جوړېږي او د اړوندې شوري د فعالیتونو رپوټ د کال د هرې څلوریزې (ربعې) په پای کې د ټولیزو رسنیو له لارې د سیمې د اوسېدونکو خبرتیا ته رسول کېږي.

## څلورم فصل

## د ولایتي شوري تعلیق او انحلال

د تعطیل حالت

**لسمه ماده :**

که چېرې د افغانستان د اساسي قانون په یو سلو دري څلوېښتمه ماده کې د درج شوي حکم مطابق په یوهٔ یا څو ولایتونو کې د اضطرار حالت اعلان شي ، اړونده شوري یا شوري ګانې تعطیل کېږي او والي د

پیشنهاد یک ثلث اعضاء یا رئیس آن و یا در صورت پیشنهاد والی به رئیس شورا و موافقهٔ وي ، دایر شده میتواند .

(۲) اجلاس شورای ولایتی در مرکز ولایت دایر و گزارش فعالیت های شورای مربوط ، در اخیر هر ربع سال از طریق رسانه های همگانی به اطلاع ساکنین محل رسانیده میشود .

## فصل چهارم

## تعلیق و انحلال شورای ولایتی

حالت تعطیل

**مادهٔ دهم :**

هرگاه مطابق حکم مندرج مادهٔ یکصد و چهل و سوم قانون اساسی افغانستان در یک یا چند ولایت، حالت اضطرار اعلان گردد ، شورا یا شورا های مربوط تعطیل و والی طبق

جمهوري ریاست د مقام د دستورونو او لارښوونو مطابق،د ولایت د چارو د اداري لپاره لازم تدبیرونه نیسي او د اضطرار حالت په لرې کېدو سره شوري بېرته خپل فعالیت پیل کوي .

**د انحلال حالت**

**یوولسمه ماده :**

که چېرې ولایتي شوري د اساسي قانون او د دې قانون د حکمونو مخالف داسې عمل وکړي چې امن او عامه نظم تر ګواښ لاندې راشي ، شوري یا شوري ګانې تعلیق او موضوع د مؤظف هیئت لخوا چې د جمهور رئیس له لوري د ملي شوري لخوا د غوره شوو غړو په ګډون ټاکل کېږي ، څېړل کېږي او په هغهٔ صورت کې چې د څېړنو په پایله کې ثابته شي چې د شوري غړو له خپلو قانوني وجایبو څخه سرغړونه کړې ده ، د هیئت د وړاندیز له مخې او د سترې محکمې په تأیید ، جمهور رئیس د فرمان په صادرولو سره ، د

دساتیر و هدایات مقام ریاست جمهوري ، تدابیر لازم را جهت ادارهٔ امور ولایت اتخاذ و با رفع حالت اضطرار ، شورا دوباره به فعالیت خود آغاز مینماید .

**حالت انحلال**

**مادهٔ یازدهم :**

هرگاه شورای ولایتی مخالف احکام قانون اساسی و این قانون طوری عمل نماید که امن و نظم عامه مورد تهدید واقع گردد ، شورا یا شورا ها تعلیق و موضوع توسط هیئت مؤظف که از طرف رئیس جمهور به اشتراک اعضای انتخاب شده از طرف شورای ملی ، تعیین میشود ، بررسی شده و در صورتیکه در نتیجهٔ تحقیقات ثابت شود که اعضای شورا از وجایب قانونی خویش تخلف ورزیده اند ، بالاثر پیشنهاد هیئت و تائید ستره محکمه، رئیس جمهور با صدور فرمان ، انحلال

شوري د انحلال او بيا ټاکنو امر کوي .

دشوري دغړي پر خلاف شکايت

دوولسمه ماده :

(۱) د شوري د غړي پر خلاف شکايت د اثباتيه دلايلو او مدارکو او د شاکي د شهرت په ذکر کولو سره د سيمې ادارې ته وړاندې کېږي. د سيمې اداره د شاکي د شهرت له ذکرولو پرته، موضوع د اړونـدې شوري رئيس ته محولوي .

په هغۀ صورت کې چې شکايت د شوري رئيس ته متوجه وي ، د سيمې اداره شکايت مستقيماً د دې قانون په خوارلسمه ماده کې درج د اخلاقي ضوابطو کميټې ته وړاندې کوي .

(۲) که چېرې رسېدلی شکايت د شوري د غړي د قانوني مکلفيتونو له نه رعايتولو څخه راپيدا شوی وي ، د شوري رئيس موضوع د څېړنې او تحقيقاتو لپاره د اخلاقي ضوابطو

شورا و انتخابات مجدد را امر مينمايد .

شکايت عليه عضو شورا

مادۀ دوازدهم :

(۱) شکايت عليه عضو شورا با ذکر دلايل و مدارک اثباتيه و شهرت شاکی به ادارۀ محل ارائه می گردد. ادارۀ محل بدون ذکر شهرت شاکی، موضوع را به رئيس شورای مربوط محول می نمايد .

در صورتی که شکايت متوجه رئيس شورا باشد، ادارۀ محل شکايت را مستقيماً به کميتۀ ضوابط اخلاقی مندرج مادۀ چهاردهم اين قانون ارائه ميدارد .

(۲) هرگاه شکايت وارده ناشی از عدم رعايت مکلفيت های قانونی عضو شورا باشد ، رئيس شورا موضوع را غرض بررسی و تحقيقات به کميتۀ ضوابط

کميټې ته وړاندې کوي .کميټه موضوع د اوو ورځو په ترڅ کې هغۀ ته ابلاغوي او د شوري غړی مکلف دی د پنځلسو ورځو په ترڅ کې قانع کوونکی ځواب وړاندې کړي . د قانع کوونکي ځواب د نه وړاندې کولو په صورت کې له حال سره سم د شوري غړي ته توصيه يا اخطار صادرېږي .

د جرم ارتکاب

ديارلسمه ماده :

د ولايتي شوري غړی د جرم د ارتکاب په حالت کې د واکمنې محکمې لخوا محاکمه کېدی شي .

کميټې

څوارلسمه ماده :

ولايتي شوري د شوري د غړو پر اخلاقي ضوابطو د څارنې په غرض له خپل منځ څخه له دريو غړو څخه جوړه شوې کميټه رامنځته کوي او ولايتي شوري

اخلاقی راجع می نمايد .

کميته موضوع را در خلال هفت روز به وی ابلاغ نموده و عضو شورا مکلف است در خلال پانزده روز جواب مقنع ارائه نمايد . در صورت عدم ارايۀ جواب مقنع ، حسب احوال به عضو شورا توصيه يا اخطار صادر ميگردد .

ارتکاب جرم

مادۀ سيزدهم :

عضو شورای ولايتی در حالت ارتکاب جرم توسط محکمۀ ذيصلاح محاکمه شده ميتواند .

کميته ها

مادۀ چهاردهم :

شورای ولايتی غرض نظارت بر ضوابط اخلاقی اعضای شورا از بين خود کميتۀ متشکل از سه عضو را ايجاد مينمايد و شورای ولايتی عندالضرورت کميته های

عندالضرورت نورې کميټې هم جوړولای شي .

د څوکۍ تعلق

پنځلسمه ماده :

د شورې د غړي د مړيني ، استعفي يا عزل او يا داسې ناروغۍ په صورت کې چې د هغهٔ د دندې د اجراء خنډ شي ، څوکۍ يې د پاتې مودې لپاره د ټاکنو د خپلواک کمېسيون د ترتيب شوي لست مطابق ، له عين جنس څخه د زياتو رأيو لرونکي په ورروستي کانديد پورې اړه مومي. په هغهٔ صورت کې چې د شورې غړی ترورېږي ،د هغهٔ کرسۍ د استازيتوب د دورې تر پای پورې خالي پاتې کېږي.

امتيازونه

شپاړسمه ماده :

د ولايتي شورې ګانو د غړو لپاره د قانون د حکمونو مطابق ، مناسب معاش ټاکل کېږي .

ديگری را نيز ايجاد کرده ميتواند.

تعلق کرسی

مادهٔ پانزدهم :

در صورت وفات ، استعفا يا عزل عضو شورا و يا مريضی ايکه مانع اجرای وظيفه وی شود ، کرسی او برای ميعاد باقی مانده طبق لست مرتبه کميسيون مستقل انتخابات به کانديد بعدی دارای بيشترين آراء ، از عين جنس تعلق ميگيرد .در صورتيکه عضو شورای ولايتی ترور ميگردد ، کرسی وی الی ختم دوره نمايندگی خالی باقی می ماند.

امتيازات

مادهٔ شانزدهم :

برای اعضای شورا های ولايتی معاش مناسب مطابق به احکام قانون تعيين ميگردد .

د شوري اړتيا

**اوولسمه ماده :**

د شوري اداري او خدماتي چارې د اړوند ولايت لخوا برابرې او تنظيمېږي .

## پنځم فصل

## متفرقه حکمونه

د معلوماتو وړاندې کول

**اتلسمه ماده :**

د وزارتونو او مرکزي خپلواکو عمومي رياستونو نمايندګۍ مؤظفې دي ، عندالضرورت هغه معلومات چې په مشخصو مواردو کې د شوري لخوا غوښتل کېږي ، د قانون د حکمونو په حدودو کې زيات نه زيات د لسو ورځو په موده کې وړاندې کړي .

د شوري ګانو همکاري

**نولسمه ماده :**

هغه موضوعګانې چې حل او فصل يې د څوګونو ولايتي شوري ګانو

نيازمندی شورا

**مادۀ هفدهم :**

امور اداری و خدماتی شورا از طرف ولايت مربوط تهيه و تنظيم ميگردد .

## فصل پنجم

## احکام متفرقه

ارائۀ معلومات

**مادۀ هجدهم :**

نمايندگی های وزارت ها و رياست های عمومی مستقل مرکزی مؤظف اند عندالضرورت معلوماتی را که در موارد مشخص از طرف شورا مطالبه ميگردد ، حد اکثر الی مدت ده روز در حدود احکام قانون ارايه نمايند .

همکاری شوراها

**مادۀ نزدهم :**

موضوعاتيکه رسيدگی و حل و فصل آن ايجاب همکاری شورا های

همکاری ایجاب کړي ، د څېړنې واک يې هغهٔ هيئت ته پرېښودل کېږي چې عندالضرورت د اړوندو اړخونو د ولايتي شوري ګانو لخوا جوړېږي .

### نه بوختيا

**شلمه ماده :**

د ولايتي شوري غړی د دندې د تصدی په بهير کې له تدريس پرته نشي کولی په نورو رسمي چارو بوخت شي .

### مصونيت او امنيت

**یوویشتمه ماده :**

د کورنيو چارو وزارت او نورې اړوندې امنيتي مراجع د ولايتي شوري د غړو او دفترونو د امنيت او مصؤنيت د تأمينولو لپاره لازم تدبيرونه نيسي .

### حضور او غياب

**دوه ويشتمه ماده :**

د ولايتي شوري د غړو په حضور او

متعدد ولایتی را نماید ، صلاحیت رسیدگی آن به هیئتی واگذار میشود که عندالضرورت از طرف شوراهای ولایات ذیدخل تشکیل میگردد .

### عدم اشتغال

**مادهٔ بیستم :**

عضو شورای ولایتی در جریان تصدی وظیفه نمی تواند به استثنای تدریس به امور رسمی دیگری اشتغال ورزد .

### مصؤنیت و امنیت

**مادهٔ بیست و یکم :**

وزارت امور داخله و سایر مراجع ذیربط امنیتی برای تأمین امنیت و مصؤنیت اعضای شورای ولایتی و دفاتر مربوط آن تدابیر لازم اتخاذ مینمایند .

### حضور و غیاب

**مادهٔ بیست و دوم :**

امور مربوط به حضور و غیاب

غياب پورې اړونـــدې چـــارې ، د جلاكړنلارې په واسطه تنظيمېږي .

مهر او خپرونه

درويشتمه ماده :

(۱) ولايتي شوري ، د مخصوص مهر لرونكې ده .

(۲) ولايتي شوري كـــولی شـــي ، خپرونه ولري .

د انفاذ نېټه

څلېر يشتمه ماده :

دغه قانون د توشېح له نېټي څخـــه نافذ او په رسمي جريـــده كـــې دې خپور شي او په نافذېدو سره يـــې د ۱۳۸۴/۵/۳۱نېټي په (۸٦۰) گڼـــه رسمي جريده كې خپـــور شـــوی د ولايتي شوري گانو قانون لغوكېږي .

اعضای شورای ولایتی در طرزالعمل مربوطۀ آن تنظیم می گردد .

مهر و نشریه

مادۀ بیست و سوم :

(۱) شورای ولایتـــی دارای مهـــر مخصوص میباشد .

(۲) شورای ولایتی میتوانـــد دارای نشریه باشد .

تاریخ انفاذ

مادۀ بیست وچهارم :

ایـــن قـــانون از تـــاریخ توشـــیح نافـــذ و درجریـــدۀ رســـــمی نشر گردد و با انفـــاذ آن قـــانون شوراهای ولایتی منتشـــرۀ جریـــدۀ رســـــمی شـــــماره (۸٦۰) مؤرخ۱۳۸۴/۵/۳۱ ملغی میگردد.

# اشتراك سالانه

در مرکز و ولایات :(۸۰۰) افغانی

برای مامورین دولت۲۵% تخفیف

برای متعلمین و محصلین با ارائه تصدیق، نصف قیمت

خارج از کشور (۲۰۰) دالر امریکائی


**قیمت این شماره :( ۲۰) افغانی**

**نمبر تیلفون دیجیتل : (۲۱۰۳۳۷۵)**

**تیراژ چاپ: (۵۰۰۰) جلد**

# ISLAMIC REPUBLIC
# OF
# AFGHANISTAN
# MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL
# GAZETTE

**Extra ordinary Issue**

**Law on Provincial Conncils**

**Date : ١٩th *APRIL.* ٢٠٠٧**

**ISSUE NO :(٩٢٠)**